# رومانویت: تعریف ، مفهوم، ابتدا او ارتقاء یو بحث
# A Study of Romantism, Meaning, Definition and Evolution

Asal Marjan*, Suleman Shahram†

**Abstract**

Romanticism; A global literary movement which rose from France and gave new horizons to literature. It strongly opposed the rules, regulations and all the principles of Classicism. Romanticism promoted new ways of expression. It focused on free and rebellious thoughts. In this article an attempt has made to describe the origin, evolution and some important aspects of Romanticism. It has been also discussed that how this movement spread from France to other European countries and from Europe to Indian sub continent and when it affected Pashto literature.

بني ادم چې کله د زمکې په مخ ټولنیز ژوند پیل کړو نو د دهٔ په مازغو کښې د ژوند تېرولو د پاره څهٔ اصولو اوقاعدو هم سر ووهلو۔ انسان د خپل ټولنیز ژوند په وجه د خپل چاپیرچل نه اثر اخلي او هم دغه اثر د دهٔ په باطن کښې د جذباتو او احساساتو یو جهان اوزېږوي ـ د دغه جذباتو او احساساتو اظهار چې په کومه ښکلې طریقه کېږي هغې ته ادب وئیلے شي او چې کله دغه اظهار د لیک رنګ واخلي نو د ادب اعلیٰ یو قسم ګڼلے شي که چېرې د دې لیک رنګ ښکلے او دلچسپ وي نو په لوستونکو هم هغه شان اثر کوي ـ

د هرې ژبې په ادبي تاریخ چې سړے نظر واچوي نو د پرمختګ او بدلون یو تسلسل په کښې خامخا لیدلے کېږي ـ په ادبي دنیا کښې د هر یو دور خپل خپل ادبي رجحانات وي چې د هغې په وجه د هغه دور پېژندګلو په اسانه کېږي ـ دغه ټولو رجحاناتو ته د ادب استاذانو او پوهانو مختلف نومونه ورکړي دي لکه د مثال په توګه کلاسیکیت، رومانیت، حقیقت نګاري، ترقي پسندي، ساختیات ، پس ساختیات ، جدیدیت، ما بعد جدیدیت او پته نهٔ شته چې لا به نور کوم کوم نومونه او اصطلاحات مخې ته راځي ـ

* alias Muhib Wazir, Assistant Professor, Bacha Khan University, Charsadda

† PhD Scholar, Bacha Khan University, Charsadda

کلاسيکي ادب يو خپل چوکاټ او مخصوص حدونه لري چې ليکونکے ئې پابند وي ـ په کلاسيکي ادب کښې عموماً د علمي او انتهائي سنجيده اصطلاحاتو په مدد د ادب تخليق کولے شي ـ

کلاسيکيت د فکر او تخيل يو توازن او اعتدال لري د کلاسيکيت روح په واقعيت ولاړ وي او ژوند ته په ظاهري نظر ګوري :

> "عقل پرستي، اصول پرستي، تقليد او اعتدال د کلاسيکيت بنيادي قدرونه ګڼلے شي" [1]

کلاسيکي ادب يو قسم د تهذيب و تمدن امين وي ، په کلاسيکي ادب کښې د قومونو ادبي او ثقافتي ورثه موجوده وي ، د قومي رواياتو د مستقبل بنيادي کړی وي ـ د کلاسيکيت دا تقاضا ده چې د اجتماعي ژوند د معمول تجربې او حقيقتونه دې په رسمي او ټاکلي توګه په بند شکل (فارم) کښې وړاندې کړي ـ

خو د دې برعکس رومانيت ټول په ټوله د کلاسيکيت ضِد دے ـ رومانيت د ژوند او فن د يوې بې قرارۍ نوم دے ـ رومانيت د تجزياتي عقل په ځائے په وجدان او باطني قوتونو ډېر مئېن وي ـ رومانيت د کلاسيکيت متعين کړيو شويو اصولو او قاعدو ، د زړو رواياتو او قېدونو نه د بغاوت نوم دے ـ د رومانوي احساس خاوند به د قوم، نسل او مسلک نه بالاتر د ټول انسانيت خبره کوي او د هر قسمه ظلم او جبر به مخالفت کوي ـ د دې نه علاوه رومانوي شاعر خپله خوشحالي او د زړۀ تسکين د فطرت په حسينو اجزاؤ کښې لټوي او خپله شاعري کښې به د دغه فطرت عکاسي کوي ـ په لنډو ټکيو کښې رومانوي شاعر د هر څۀ نه زيات حُسن پرست وي ـ

د رومانيت لغوي معنا:

> "رومانيت د انګرېزۍ ژبې لفظ (Romanticism) ترجمه ده چې د انګرېزۍ د (Romance) نه او په خپله (Romance) بيا د فرانسيسي ژبې لفظ د (Romanz) نه ماخوذ دے چې لغوي معنٰي ئې د خلقو خبرې دي او د رومانس لغوي معنٰي د حکايت، داستان او افسانه په ټکيو کولے شي" [2]

اصطلاحي معنا:

اصطلاح کښې "رومان" او "رومانويت" جدا جدا معنا لري ـ "رومان" د ادب هغه برخه ده چې په کښې د قېصو په شکل کښې د ژوند هغه واقعات بيانولے شي چې د حقيقي ژوند د عام او امروزه واقعاتو نه بېل څۀ وي ، يعني فرضي قيصې، عجيبه او حېرانونکې قيصې، د عشق او د مينې واقعات او قيصې د مثال په توګه د ديو توراباں، سيف الملوک بدري جماله،

الف لیلٰی یا د مینې محبت داستانونه لکه لیلٰی مجنون، شیرین فرهاد، ګل صنوبر، ادم درخانۍ، یوسف خان شېربانو او داسې نور ـ

د "رومان" په حقله وئیلے شي چې په وړمبۍ پېړۍ قبل از مسیح کښې د "جولیس سیزر" د فتوحاتو له کبله په موجوده فرانس باندې د روم سیاسي غلبه راغله ـ د دې ځاے د رومي حاکمانو ژبه "لاطیني" وه چې د هغې الفاظ او ترکیبونه د مقامي ژبو سره یو ځاے شول او یوه نوې ژبه ترې پیدا شوله چې هغې ته به ئې "رومان لنګوا" وئیل ـ په دې اولسي ژبه کښې چې به کومې قیصې لیکلې شوې هغو ته به ئې "رومان" وئیلو ـ دا قیصې به جادو، عجائباتو، د عشق او مینې او د بهادرۍ په موضوعاتو لیکلې شوې نوځکه دا عناصر د رومان ترکیبي عناصر اوګڼلے شول ـ [3]

خو "رومانیت" په اصلطلاح کښې د رومانس د لغوي معنا نه بېخي ډېر په جدا معنو کښې کارولے شي چې د اتلسمې پېړۍ اخري نیمایۍ کښې په مغربي دنیا کښې په ادب کښې باقاعده د یو تحریک په طور د کلاسیکیت خلاف شروع شو۔ دغې روماني تحریک ته په فرانسیسي ژبه کښې "رومانتک" وائي او روماني احساس ته "رومانسک" وائي ـ پروفېسر انور جمال په خپل کتاب "ادبي اصطلاحات" کښې وائي:

رومانویت د ژوند یوه مخصوصه رویه ده چې ازاد خیالي ، انا پرستي ، مستي ، خود پسندي او د بغاوت په شان عناصر په کښې جوت وي ـ د تخیُل دغه ازادي د تخلیق یوه داسې چینه رابرڅېره کوي چې د یو طوفان نه په هېڅ صورت کم نۀ وي ـ رومانویت د احساس او اظهار هغه انداز او طرز دے چې د فکر په ځاے په کښې د تخیُل عمل داري ټینګه وي ـ د خوب او خیال په رنګین کائنات کښې ګرځېدل رومانویت دے او په دغه لحاظ ورته ځینو خلقو د یوټوپیا مشبه ګڼلے دے ـ [4]

عبدالرحیم مجذوب په خپل یو مضمون کښې لیکي:

> "د رومانټېسزم شاعران د باچا په ځاے د فقیر تذکرې کوي او د بادار په ځاے د نادار خبرې کوي او کلاسیکي شاعرانو د شاعرۍ نه مختلف وي ـ" [5]

او صدیق الله ریښتین بیا لیکي:

> "د دې سبک (رومانټیسزم) غرض د کلاسیزم په ښکاره مخالفت کول دي ـ په رومانټسزم کښې د پخوانو اصولو پابندي نۀ شته او زاړۀ او پخواني چوکاټونه په کښې ماتېږي ـ لنډه دا چې رومانیت یو نوې لاره ده چې د ژوندانۀ د ننداړتون په انځور کښې له تخیل احساس قېدونه او شرطونه نۀ مني ـ" [6]

رومانيت د نظريې، فلسفې او عقيدې په ځاے د يو رجحان يا د يوې جذبې نوم دے ـ رومانيت خپل ځان تش په طرزِ احساس، طرزِ ادا او طرزِ اظهار کښې جوتوي يا به دا اووايم چې رومانوي شاعران د احساساتو او جذباتو په وسيله حقيقتونو ته ځان رسوي ځکه خو د رومانوي شاعرانو ترمېنځه هم د فکر ، نظريې او عقيدې د اختلاف احتمال موجود دے ـ رومانويت د زړو څيزونو په مقابله کښې د ناليدلو او د څيزونو د ابغ نبغ اظهار په ځاے د تجسّس، حېرانی او لټون په انداز کښې پېش کولو ته اوليت ورکوي ـ

د پورتنيو حوالو سره دا خبره ښکاره شوه چې رومانويت او کلاسيکيت د يوبل تضاد دي ـ رومانويت د کلاسيکيت مقرر کړل شويو قاعدو او قوانينو نه د ازادۍ او د بغاوت نوم دے ـ خو که داسې اووئيلے شي چې رومانويت مکمل د کلاسيکيت ضِد نۀ دے نو دا به هم بې ځايه ځکه نۀ وي چې که چېرې رومانويت د کلاسيکيت ضد وے نو د عبدالحميد بابا يا نورو په شاعرۍ کښې د رومانويت په توکيو لټولو پسې به محققينو خپلې هڅې نۀ کولې [7] ـ د دوي په شاعرۍ کښې رومانويت ډېر جوت دے ـ نو دا خبره يقيني شوه چې رومانيت په مکمل ډول د کلاسيکيت ضِد نۀ دے بلکې رومانيت د خيال او د فکر د ازادۍ نوم دے ـ د مظلوم اولس د حقونو د مرستې او د شاهانو د جبر خلاف اواز دے ـ حق وېنا کول دي ، فطرت ته د نزدېکت نوم دے او په جار د خپلې مينې د اظهار نوم دے ـ

## ۱ د رومانويت خصوصيات

رومانويت يو مکمل تحريک دے او تحريک که څۀ هم په ظاهره د يوې اېجنډې يا د يوې نقطې نمايندګي کوي ، خو په خپل داخل کښې هغه بيا نورې ډېرې نقطې او زاوئې يا جهتونه لري ـ دارنګې رومانوي تحريک کښې هم ابو الأعجاز حفيظ صديقي په خپل کتاب "کشاف تنقيدي اصطلاحات" کښې دا لاندينې عناصر ښودلي دي:

> "د روح ازادي او فطرت نګاري ، نوے جوړښت يا نوے هئېت يا تکنيکي خلوص ، د ټولنيزو ناوړتياؤ ترجماني ، ماضي پرستي ، تصوفي رنګيني ، انفراديت پسندي ، د کليوال ژوند سره مينه ، د انساني حقونو مرسته او ژغورنه، ښکلې منظر کشي ، دېو مالايي تصورات ، ازاد خيالي ، حقيقت نګاري ، تغرل افريني ، جذباتيت [8] " ـ

## ۲ د رومانیت ابتداء او روایت

څنګه چې وړاندې ذکر اوشو چې د رومانیت اثر باقاعده د رومانوي تحریک نه وړاندې هم په هر دور کښې څۀ نه څۀ موجود وۀ، ولې د انساني ژوند د ټولو اړخونو نه ئې پرده نۀ وه لرې کړې خو د رومانوي تحریک د باقاعده راتګ نه پس د انساني ژوند په واړه اړخونو توجه ورکړے شوه او د دې باقاعده اغاز د فرانس د انقلابي دور نه اوشو ـ

په فرانس کښې چې کله د بادشاهانو، امراؤ، مالدارو او جابرانو خلقو ظلمونه په غریب او مظلومه عوامو د حد نه ډېر شول نو دغه زمانه کښې شاعرانو، ادیبانو به د اخبارونو، ناولونو او د شاعرئ په ذریعه اولس ته د خپل حق حاصلولو او د ازادئ تر لاسه کولو د پاره شعور ورکولو ـ په دغه خلقو کښې د "ژان ژاک روسو" نوم ډېر اهم دے ځکه چې د انقلاب فرانس د سوچ ټول په ټوله دارو مدار د دوي په لیکونو باندې وۀ ـ د هغۀ د لیکونو په وجه د فرانس خلقو کښې دا شعور پیدا شو چې ازادي د هر کس حق دے، ټول انسانان برابر دي او ټولو ته یو شان د ازادئ حقونه حاصل په کار دي ـ هر طرف ته د ازادئ، برابرئ او د طبقاتو د ختمولو د پاره هلې ځلې شروع شوې او هم دغه وجه وه چې د فرانس غریب او مظلومه اولس د خپلو حقونو په حاصلولو کښې کامیاب هم شول ـ

نن هم د فلسفې مؤرخین او د ادب نقادان په شریکه "روسو" ته د رومانویت وړومبے نقیب وائي ـ دے په اصل کښې فرانسیي نۀ وۀ خو د خپل ژوند زیاته حصه ئې په فرانس کښې تېره کړې وه ـ "روسو" په انساني عقل باندې باور لرلو او د عقل په مددئې د معاشرې ټولې کړمې حل کول غوښتل "روسو" سره "وائیس"،"کندوسے"،"منتلو" او "دیدرو" او نور هم د جابرو بادشاهانو او د هغوي د ظلمونو خلاف وو او ورسره ورسره د هغې مذهبي خلقو هم خلاف وو چا چې به مذهب خرڅولو ـ

د رومانیت د ابتداء په اړه "پروفېسر عبدالجبار" خپله مقاله "پښتو شاعرئ کښې رومانیت" کښې لیکي چې:

> "مغربي دنیا کښې رومانیت ۱۷۷۰ء نه واخله ۱۸۵۵ء پورې را ظاهر شو۔ دې تحریک یو ښکلے رومانوي ادب راوزېږولو۔ په رومانوي ادب کښې Folk Poetry, Tales, Music هم راتلے شي په اوولسمه صدئ کښې دا تحریک د مغرب په قامونو راخور شو ـ" [9]

په اتلسمه او نولسمه صدئ کښې چې کوم رومانوي تحریک په مغربي دنیا کښې راخور شوے وۀ ، هغه یو انقلابي حرکت وۀ ـ دا په رښتیا معنو کښې یو نوے کلچر وۀ چې زاړۀ خیالات ئې ورک کړل او یواځې دا نۀ بلکې شاهي او جاګیرداري خیالاتو او تصوراتو ته ئې

هم دیکه ورکړه او د ښکلو او ساده احساساتو او جذباتو اصلي او حقیقي څیزونو تلاش ئې شروع کړو ـ

ډاکټر راج ولي شاه خټک خپله مقاله "رومانیت او پښتو نظم" کښې د رومانیت د ابتداء په اړه د خپلې رائې اظهار څهٔ په دې ډول کوي:

"په ارټ یا فنونو کښې عموماً او په فلسفه کښې خصوصاً رومانیت د یو منفرد رجحان په حېثت اول په یورپ کښې او بیا په روس کښې خور شو ـ د دې شروعات د اتلسمې صدئ په شروع کښې شوے دے ـ د یو تحریک په صورت کښې رومانیت د نیو کلاسېزم په مقابله کښې مخې ته راغلے دے ـ" [10]

د رومانیت نه اګاهو د اتلسمې صدئ کلاسیکي ادب په روایت، قدامت او څینې فرسوده اصول بناء وهٔ ـ غېر فطري او تر ډېره حده رسمي وهٔ ـ سیاسي او غېر یقیني وهٔ او د کلاسیکي ادب شاعران محض د حکومت وخت اله کار وو ـ د هغوي عام اولس سره هېڅ مینه نهٔ وه ـ د دوي شاعري بس صرف د لاطینی ژبې د ګرانو الفاظو ذخیره وه ـ هم دغه وجه وه چې د دوي مصنوعي طرزِ تحریر کښې هېڅ ساه حرکت نهٔ وهٔ ـ نو د دې قسم ادب خلاف یو باقاعده تحریک شروع شو چې د رومانیت په شکل کښې ظاهر شو ـ

## ۱.۲ برطانیه کښې رومانوي تحریک

د فرانس د انقلابي دور لیکوالو انګرېزي ادب هم ډېر متاثره کړو او په برطانیه کښې هم د نظمیه او نثري لیکونو موضوعات عام اولس او د هغوي د ژوند شخړې اوګرځېدل ـ د شاهانو د ټاټ باټ په ځاےئې د اوښکو، سلګو او ژړاګانو د ذکر ابتداء اوکړه ـ

عبدالرحیم مجذوب خپله مقاله کښې د دې خبرې ذکر څهٔ په دې ډول کړے دے:

"د فرانس انقلاب نه د انګرېزئ ژبې لیکوال متاثره کېږي ـ شاید دوي هم د مزدور کشو، غریبانو ښځو او سړو طرف ته متوجه شول او وړاندې به شېکسپئیر په باچاهانو ډرامې لیکلې اوس د برطانیه لیکوالو هم د ناولونو او شاعرئ باتوران عام وګړي جوړ کړل ـ ماشومه غریبه جینئ، کونډه رنډه، عوامي تکلیفات بیانول د ادب موضوع جوړه شوه ـ" [11]

ابتدائي دور کښې رومانیت د تصوراتو یو ترقي یافته شکل وهٔ چې انسان په څینې موقعو د فطرت نه اخذ کړل او خلقو ته ئې وړاندې کړل د چشمو او چینو د اوبو شان و شوکت،

غرونه، ځنګلونه، د ماشوم ښکلا، د پېريانو دېوانو حېرانوونکي قيصې د ونو بوټو، ګلونو او مارغانو ښائست او اوازونو د شاعر په زړۀ کښې لار پيدا کړه اوهغه ئې راوپارولو ـ په دې څيزونو کښې ئې دلچسپي واخيسته او دغه خوند او دلچسپي ئې خلقو ته د اشعارو په ژبه بيان کړه :

"هسې خو په انګرېزئ ژبه کښې د رومانيت (Romantic) کلمه په وړومبي ځل د "هندي مور" (H More) په تحريراتو کښې په ۱۶۵۹ء کښې ښکاره کېږي ـ" [12]

د برطانيې نه دا لفظ فرانس ته رسېږي هلته د بې کچه مقبوليت په وجه د فرانسيسي اکېډمي په لغت کښې په ۱۷۷۸ء کښې تحرير کېږي او فرانس کښې د خپل ټاکليو شوؤ معنو او خصوصيات قائمولو نه پس د رومانيت کلمه يو ځل بيا انګلستان ته را رسي اودلته په برطانيه کښې هم د رومانوي تحريک خاص خصوصيات او صفات مقررېږي ـ په برطانيه کښې د رومانوي تحريک باقاعده اغاز د "وليم ورډز ورتهـ" او د "سمول ټيلر کالرج" د اشعارو نه کېږي ـ خواجه محمد سائل په خپل کتاب " عبدالحميد او رومانويت" کښې ورته څۀ په دې ډول اشاره کړې ده:

"د اتلسمې صدئ په اخري نيمايي برخه کښې که څۀ هم رومانوي عناصر په جرمني او انګلستان کښې ښکاره شوي وو خو رومانويت د يو منظم تحريک حېثيت خپل کړے نۀ وۀ ـ حقيقت دا دے چې د وليم ورډز ورتهـ او د سيمول ټېلر کالرج په کوشش چې (۱۷۹۸ء) کښې د لندن په مقام د ليريکل بېلډز (Lyrical Ballads) په نوم د فطرت او مافوق الفطرت اشعارو کومه شعري مجموعه چاپ شوه او د دې په ديباچه کښې د رومانويت د فن اصول مقرر شول نو دغه ديباچې د رومانويت د فن او نظرئې تعين اوکړو او دغه تصنيف د رومانويت بنياد اوګرځېدو ـ ورډز ورتهـ او کالرج د انګرېزئ ژبې د رومانويت بنياد اېښودنکي او رهنما ياد شول ـ" [13]

## ۲.۲ جرمني کښې رومانويت

په مغرب کښې د رومانوي تحريک اثرات تر برطانيې رسېدو سره سره په نولسمې صدئ کښې په جرمني کښې هم فلسفيان او اديبان د رومانوي عناصرو نه متاثره شول او د جرمني فلسفيانو او اديبانو لکه کانټ، ګوئټے، هوډز، ولنک او داسې نورو د رومانويت په خپرولو کښې برخه واخيسته ـ په جرمني کښې د رومانويت په حواله ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکي چې:

"وائي چې دا رومانويت د جرمني ائيډيا لزم په صورت کښې له وخت نه موجود وۀ خو وروستو په فلسفيانه انداز کښې فروغ روسو ورکړو او د هغۀ تحريک ورستو په دنيا خور شو ـ" [14]

د ځينو خلقو رائې دا هم ده چې رومانيت د جرمني داستانونو نه جوړ شوے دے او بيا انګرېزي ادب ته راغلے دے ولې چې په انګرېزي ادب کښې ځيني کلاسيکي شاعران لکه چاسر، سپنسر او شکسپئير هم رومانټک شاعري کوي خو محض رومانيت يا د رومانس يعني د مينې محبت موضوعاتو باندې مشتمل وۀ ـ په اصل کښې د جرمني او د برطانيې شاعران او اديبان د فرانس د انقلابي دور د ليکونو نه متاثره شوي وو او غټ ثبوت ئې دا دے چې رومانټيسزم د ليکوالو د قلم موضوع عام سړ ے وي ـ دوي د بادارو او باشاهانو قصيدې نۀ ليکي ـ په مغربي ادب کښې رومانيت ځان له يو خپل مقام پيدا کړو او لکه د نمر د رڼا په شان د نړۍ د هرې ژبې ادب ئې روښانه کړو ـ

## ۳.۲ هند کښې رومانيت

د نولسمې پيړۍ په اخره کښې د انګرېزۍ ژبې او ادب په وسيله رومانيت په هند کښې هم رواج بيا موندو ـ په سرکاري کالجونو کښې چې کوم انګرېزي نصاب مقرر کړے شوے وۀ نو په هغې کښې د انګرېزۍ ژبې د رومانوي شاعرانو لکه د ورډز ورتھ، شيلے، بائرن، کالرج او کيټس نظمونه شامل وو ـ دې سره سره په نثر کښې د "والټر سکاټ" ناولونه هم شامل وو چې د دې د لوستو په وجه دغه زمانه کښې د ليکلو لوستلو خلقو په زړۀ او ذهن کښې رومانيت لار جوړه شوه ـ عبدالحليم شرراو محمد علي طيب د والټر سکاټ اود اليګزنډر ډوما په تقليد کښې روماني ناولونه ليکل شروع کړل ـ د اردو ژبې د رومانيت په حواله عبدالرحيم مجذوب وائي:

"پښتو ژبې نه اګاهو رومانټيسزم د اردو ژبې شاعرانو د انګرېزۍ ژبې نه خپل کړو ـ اختر شيراني، ډاکټر اقبال او د اردو ژبې نورو شاعرانو په کلام کښې د پنجاب يونيورسټي په وجه را داخل شو ـ پنجاب يونيورسټي د پېښور يونيورسټي نه پينځويشت کاله وړاندې جوړه شوې ده او پاک و هند کښې د ټېګور غوندې شاعر او ليکوال په بنګال کښې او ډاکټر اقبال په پنجاب کښې ابتدائي تعليم حاصل کړے وۀ او د انګرېزي ادب نه ښۀ واقف وو" [15]

د انګرېزۍ ژبې د شاعرانو د مطالعې په وجه د اردو ژبې ادب کښې هم د رومانټيسزم رجحان پيدا شو ـ علامه اقبال هم د انګرېزي ادب نه متأثره شو ـ د اقبال "جاويد نامه" دغه

رنګ د "بانګ درا" نظمونه ئې هم رومانټک انداز لري ـ د دې نه علاوه د رابندرناتهـ ټېګور شاعري "ګیتا نجلي" هم متصوفانه رومانټېسزم دے ـ په نثري ليکونو کښې ئې ناولونه او افسانې هم د رومانټېسزم خصوصيات لري ـ دې سره سره حفيظ جالندهري ، فېض احمد فېض او ساهر لدهيانوي په شاعرئ کښې د رومانيت ټول خصوصيات موندلے شي ـ

## ۳ پښتو کښې رومانيت

د محققينو او پوهانو ترمخه پښتو ادب کښې د رومانيت توکي د روښانيانو په دوره کښې مخې ته راځي ـ د پښتو د زوړ ادب د لوستو نه موږ ته پته لګي چې د هر قسمه جديدو رجحاناتو او تحريکونو څۀ نه څۀ توکي په کښې په لاس راځي ـ دا رانګې که موږ رومانيت ته ګورو نو د روښاني دور د شاعرانو په شاعرئ کښې هم څۀ نه څۀ توکي په کښې موجود دي ـ د روښاني شاعرانو موضوعات زياتره د تصوف سره تړلي دي خو بيا هم د طرزِ ادا په ترڅ کښې د رومانيت توکي په کښې په نظر راځي ـ ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي په خپله مقاله "په روښاني شاعرئ کښې د رومانيت توکي" کښې ليکي:

> "روښاني شاعري په پښتو ادب کښې (Pro Romanticism) يو دور دے ـ دوي راتلونکي شاعران د فن د دې توکي نه اګاه کړل ـ د Romanticism موجوده اصطلاحي شعور دوي ته د فن د يو توکي په حېثيت په شعوري توګه حاصل وۀ ـ نقادان ليکي چې رومانيت د يو فني توکي په حېث په کلاسيکي شاعرئ کښې هم موجود وۀ "[16]

ارزاني خوېشکي د روښاني ادب مکتب باني دے او د پښتو وړومبے صاحب ديوان شاعر هم دے ـ ارزاني خويشکي د دې ادبي مکتب د پاره يو اسلوب جوړ کړو چې روښاني فکر او فلسفه ئې په کښې مجسم کړل او د تصوف اصطلاحات او ادبي علامتونه ئې په کښې وضع کړل ـ د ارزاني خويشکي په شاعرئ کښې رومانيت تر دغه اصطلاحاتو، علامتونو او د استعاراتو تر حده موجود دے ـ د روماني تجربې د اظهار د پاره د شاعر شاعرانه بيان يو تخيُلي او استعاراتي تشکيل لري روماني شاعران پېچيده او عجيبه انداز او علامتي انداز کښې د بيان اظهار کوي په دې حقله پروفېسر Russell Noyes وائي:

روماني شاعران د ساده او ابغ نبغ اظهار په ځائے پېچيده اظهار او عجيبه انداز ته او نثري انداز د بيان په ځائے د تخيلاتي او علامتي انداز غوره ګڼي ـ [17]

د مثال په توګه د ارزاني خوېشکي لانديني دوه شعرونه :

فن غوټه کړه در وکاږه
له دې دل بحر قلزمه [18]

فن غوټه کړه در وکاږه
د خپل زړۀ له دود نيله [19]

په دې شعرونو کښې "در" يو تصوفي اصطلاح ده چې مفهوم ئې دے "مکاشفات، الهٰ، اسرار او اشارې" د مکاشفاتو ځاے د انسان زړۀ دے د زړۀ د پاره د "بحر قلزم" او د "رودِ نيل" استعاره او بيا د "در" له مخه د دغه بحرونو مناسبتونه راوړل د ارزاني په روماني ذهن دلالت کوي ـ

په روښاني ادبي مکتب کښې د ارزاني خويشکي نه پس د ميرزا خان انصاري په تصوفي شاعرۍ کښې د رومانيت دغه ټول توکي په اثرناک ډول موجود دي ـ د مثال په توګه د ميرزا خان انصاري شعرونه :

درست جهان ئې احاطه که
يو عجب لطيف درياب دے
مخلوقات چې څرګنديږي
هم ددې درياب حباب دے
په کثرت کښې تار په تار شۀ
اور او باد اوبۀ تراب دے[20]

که هر څومره دا شعرونه د تصوف د وحدت الوجود مسلک څخه دي خو بل اړخ ته په کښې د توحيد ذکر او اظهار د کائنات او فطرت د عناصرو او اجزاؤ په رڼا کښې بيان شوي دي او فطرت ته توجه ورکول د رومانيت اهم توکي دے ـ

د پښتو ژبې په ادبي تاريخ که مونږ نظر واچوو نو د روښاني دور نه پس د خوشحال خټک او رحمان بابا دور مخې ته راځي دا دور چې محققين ئې د ذرين دور په نامه يادوي د پښتو ادب د پاره ډېر اهم دور ګڼلے شي او په دې دور کښې د کلاسيکيت نه رومانيت اړخ ته بغاوت شروع شو ـ پښتو ادب کښې نوې رنګ او نوؤ نوؤ تجربو ته لار جوړه شوه ـ خوشحال خان خټک د دې دور سرخېل ګڼلے شي ـ دوي نه پس د خوشحال خان خټک اولاد کښې او بيا د رحمان بابا او د هغۀ د فکري مکتب سره تړلي نور شاعران راځي ـ

د خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ھ ـ ۱۱۰۰ھ) په شاعرۍ کښې د رومانيت رنګ ډېر غالب دے ـ هغه يو فطرت نګاره شاعر دے بلکې هغه د فطرت مصور او د فطرت شارح وۀ ـ خوشحال د خپلې سيمې د فطرت حُسن په خپل روح کښې جذب کړے دے ـ هم دغه وجه ده چې په کلام کښې ئې هم د فطرت نګارۍ داسې ښکلې نمونې تراشلې دي چې سړے په

جرأت سره وئيلے شي چې د انګرېزۍ ژبې فطرت نګار شاعر ورډز ورتهـ د استعارو په مقابله کښې ئې پېش کولے شي ـ د مثال په توګه:

نوبهار شو بيا نرګس په باغ مستي که
چې صبا مې په سفيل د زاغ مستي که[21]

لاله ګل به ئې له باغه خوبي پور که
په زلفينو به سنبل کاندې بې تاجه[22]

ګل د لاله باغ لري سختي د رامبيل پانې
چا وې چې لاله دے يا رامبيل دے ګلغزار شه[23]

په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه ډېر دي
د زړهٔ باغ مې د لاله د زړهٔ نصيب شه[24]

عبدالرحمٰن بابا د پښتو هغه نابغه شاعر دے چې د هر پښتون په زړهٔ کښې خپل ځاے جوړ کړے دے ـ د رحمان بابا مسلک تصوف دے او د هغهٔ ټوله شاعري د پند او نصيحت، عشق و محبت، حقيقت او د تصوف نه ګېر چاپيره چورلي خو د رحمان بابا په شاعرۍ کښې رومانوي رنګ هم موجود دے ـ د مثال په توګه :

په ارزو دې د نرګس سترګې څلور شوې
غُنچه سره د زړهٔ په وينو شوه غرقابه[25]

چې صبا شي ستا تر مخ پورې شرمېږي
ځکه زيست په توره شپه کاندي مهتاب[26]

چې اول ئې خار زرغون شي په پهلو کښې
غُنچه هله شګفته شي په ګلزار[27]

چې خندائې د بلبل په اه و سرد کړه
خداے د ګل ګرېوان کړهٔ سينه چاکه[28]

د خوشحال خان خټک او عبدالرحمٰن بابا د دور نه پس د عبدالحميد بابا او د هغهٔ د اسلوب د خلقو دور شروع کېږي چې محققين ئې د "هندي سبک" په نامه يادوي ـ د دې دور سرخېل شاعر عبدلحميدباباد ے ـ د حميد بابا کلام د رومانيت يو باقاعده سبک دے او په

شاعرۍ کښې ئې د فطرت عکاسي تر ډېره حده موجود ده ـ د دې نه علاوه د فکر وچتوالے، باریک بیني، مضمون افریني او عقل نه پورته د خیال او تخیل پرواز، عشقي احساسات، منظر کشي او فطرت نګاري ئې د کلام ښائسته او ښکلي رنګونه دي ـ

د بېلګې په توګه د عبدالحمید بابا دا څو رومانوي اشعار:

د غُنچې په څېر مې زیست په ځیګر خون دے
که هر څوئې لکه ګل له ما یکتا[29]

چې مې خیال شته د ګلرخو په لیمۀ کښې
ګل ته نۀ دي مناسب کتل زما[30]

اوتښتي له شرمه بوئي د ګلو له ګلزاره
یاد چې پکښې ئې په صبحدم کړي بوي د ستا[31]

چې پتنګ په اور کښې غږ نۀ کړي حمیده
عندلیب کاندي په ګلو ژړا پوچه[32]

د عبدالحمید بابا نه پس کامګار خان خټک دے چې په کلام کښې ئې رومانوي رنګ زیات غالب دے ـ د مثال په توګه یو څو شعرونه پېش کوم:

په ګلونو کښې ئې بوئي د وفا نشته
دریغه زۀ ورګډ شوے نۀ وے په دا باغ[33]

چې جمال دې برهنه شۀ له نقابه
په ادب ورته مخ نمر په زمین کښېښود[34]

د عبدلحمید بابا او کامګار خان خټک نه پس د پښتو ادب د نازک خیاله موشګاف شاعرانو په قطار کښې د کاظم خان شېدا هم شامل دے چې په کلام کښې ئې د رومانویت رنګ زیات غالب دے ـ د کاظم خان شېدا د کلام لویه برخه عشقیات او رومانوي رنګ څخه مخصوص ده ـ د کاظم خان شېدا د باریک بینۍ او د رومانوي اثراتو نه ډک یو څو شعرونه:

د غُنچې د رباط ور په واکېدو دے
قافله د رنګ وبو درومي صبا شۀ[35]

په ګل بلې سرې لمبې د صبا باد کړې
شنې ډډوزې ئې ختې له پیرهنه[36]

زړۀ دې وۀ چوي توره شپه ستا د سپنلو
ښکلې مخ لکه سحر ګلِ شرين کړۀ[37]

علي خان درېم موشګاف شاعر دے چې په روانه، ساده او سوچه پښتو کښې ئې شاعري کړې ده ـ علي خان د نازک او باريک خياله بيان ماهر دے خو په کلام کښې ئې رومانوي تخيل او سوچ و فکر اشعار ډېر کم دي ـ د علي خان د فطرت نګارئ يو څو شعرونه د مثال په توګه :

مسته سرله خياله کوږ وړي لکه سروې
که باريک ورمېږ ئې شو په درانۀ بار کج [38]

دا د دلبر مخ دے چې له شاله نيم ليدے شي
يا زير وتے نمر دے چې ښکارېږي نيم له غرۀ[39]

سروې چنار دواړه په هر لور هسکوي غاړه
دا وائي چې قد د دلبر لوې وۀ وينم زۀ[40]

## ۴ د پښتو جديده شاعري او رومانيت

تر اوسه پورې مونږ د پښتو په کلاسېکي شاعرئ کښې د رومانويت خوارۀ وارۀ توکي کتل چې مونږ وړاندې کړل ، خو ترڅو پورې چې د رومانوي تحريک خبره ده ، نو دا يو مسلم حقيقت دے چې د شلمې پېړئ په شروع کښې چې نړئ کښې د ازادئ تحريکونه راپورته شول ، نو د پښتو شاعرانو هم دغه تحريکونو ته کتل او په دغه ترڅ کښېئې د خپلې شاعرئ رنګونه د ازادئ ، بغاوت ، حقيقت نګارئ او جذباتيت په رنګونو ولړلې ـ د انجمن اصلاح الافاغنه او خدائي خدمتګار تحريک سره تړليو شاعرانو کښې دغه توکي ښۀ په کثرت سره مخې ته راغلل ، کوم چې د رومانوي تحريک بنيادونه دي ـ
خو د اسلاميه کالج پېښور بنياد چې څنګه کښېښودے شو او د هغې نه وړومبني ګرېجوېټ راووتل نو د رومانوي تحريک ټول په ټوله اثرات په پښتو شاعرئ کښې لوليدل شول چې سيد رسول رسا او فضل حق شيدا نومونه په کښې په خصوصيت سره د يادونې وړ دي ـ
سيد رسول رسا د روماني خيال او تصور شاعر دے دوي په خپله شاعرئ کښې د فطرت تصوير کشي او منظر کشي ډېر په هنر تراشلې ده زيات تر د نظم په حواله د دوي په نظمونو کښې شائستګي، جمالياتي، حسن او د جديدو رنګونو نوؤ محسوساتو د داخلي او خارجي

رویو ښکلے توازن موجود دے - د رسا صېب په شاعرئ کښې د رومانیت رنګ ډېر جوت دے د مثال په توګه "ښکلې فقیره" نظم نه یو څو شعرونه:

دهلے دے چاندني چوک دے زۀ روان یم په سودا کښې
ګڼېږم رو رو غلے د شعرونو په هوا کښې
بازار دے ګرم چلي، ښۀ رونق زما په خوا کښې
خو زۀ ترې څۀ خبر یم، زۀ روان بله دنیا کښې
د ستورو سره پورته اوچت ناست وم چراغان کښې
په ما هغه چپه وه چې ګرځوي مې په اسمان کښې
ناګاه مې نظر پرېوت په یو ښکلې ماجبینه
راکوز شوم رو رو راغلمه تر زمینه
ښائست د دې په مخ کښې لکه اوښکه په بڼو کښې
راڅاڅي که لړ شوري، تابه وې د دې په پښو کښې
یا د یو ریدي ګل دے چې راختې دے مېږو کښې
بس رژي درنګ ساعت له که باد راغے په چپو کښې
خیرن خچن پَلَو کښې د مخ نورئې پرقېدلو
که نمر په پَلَو شو خړه وریځ کښې ځلېدلو[41]

د جدید نظم په متوسطینو شاعرانو کښې غني خان (۱۹۱۴ء - ۱۹۹۴ء) نۀ یواځې د خپل عصر له مخه بلکې د شلمې صدئ په نظم وئیونکو شاعرانو کښې د ټولو نه جدید دے - د روایاتو نه بغاوت اصلي معنو کښې غني خان کړے دے - د غني خان په نظمونو کښې د هئیت او فورم نوې نوې تجربې هم په نظر راځي - وطن پرستي، قام پرستي، انساني فطرتي جذبات، پښتو، پښتون ولي، ازادي، بغاوت، انقلاب،حسن و جمال، عشق و تصوف، طنز و مزاح نه واخله تر د ژوند او مرګ تر ژورې فلسفې پورې د هغۀ د فکر ترحده د هغوي په نظمونو کښې خپل مثال نۀ لري - غني خان ځواني، مستي، سوز و ساز، حسن و عشق ژوند له ضروري ګڼي - د دوي په هر روماني نظم کښې د حُسن، جوانئ او مستئ یو مستانه رنګ پروت دے - د مثال په توګه یو څو شعرونه پېش کوم:

چې مستي وے او ځواني وے او جانان وے او ډک جام
ډېر ګلونه لړ یاران وے او غمګین غوندې ماښام
عشق څۀ اور وي څۀ نور وي زړۀ لمبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زۀ ورځار کړم جنتونه ستا تمام

تل سپوږمۍ د څوارلسمې تل جانان د شپاړسمې
تل ځواني مینه د شرابو دا دوزخ دې که انعام
دې دنیا پسې به ژاړم دا تیارهٔ هلال به غواړم
هره ورځ به یادومه نرۍ ولاړه ده ماښام
بیابان کښې سرهٔ ګلونه توره شپه چراغان غواړي
تل تیارهٔ کښې دے ورکېږي تل رڼا کښې هم ډوبېږي[42]

اشرف مفتون (۱۹۲۲ء تا ۲۰۰۴ء) د پښتو د جدید نظم په متوسطینو شاعرانو کښې د روماني شاعر په حېثیت منفرده لهجه او منفرد انداز لري اشرف مفتون د حُسن و جمال شاعر دے ـ رومان او حقیقت، عشق و فلسفه، حسن ترنم او موسقیت د دوي د نظمونو خصوصیات دي د اشرف مفتون په شاعرۍ تبصره کوؤنکو دوي ته د حُسن پرستۍ په سبب په "کېټس" او د صنف نازک سره د مخاطبې په وجه "اختر شېراني" وئیلي دي ـ د اشرف مفتون په کلام کښې د رومانیت اثر ډېر جوت دے ـ د اشرف مفتون زیاتره کلام د رومانیت اعلیٰ نمونې دي:

اے زما د خیال د فردوس حورې نازنینې
اے د روماني جهان مېرمنې
ما ستا د وصال شراب د خیال کاسه کښې څښلي دي
خورې مې حېرانې ستا د حُسن ته لېدلې دي
تا سره رنګین شوپن کښې ناست یمه
پټ په تورو زلفو په نازکو لېچو ملاست یمه
ماته د جذباتو سمندر کښې لمبولے شې
ماته د زمان او د مکان نه بېرته لوبولے شې
تل زما د خیال دنیا د ستا په عشق اباده ده
خلاصه له تهمته الزام اوله بېداده ده[43]

عبدالرحیم مجذوب (۱۹۳۵ء ) فکري لحاظ خو ترقي پسند شاعر دے ، ولې د نورو په شان دوي هم د اسلوب له اړخه رومانوي شاعر ګڼلے شي ـ عبدالرحیم مجذوب رومانوي اثر د انګرېزۍ ژبې شاعرۍ نه اخیستے دے ـ د مجذوب په شاعرۍ کښې د فطرت جمالیاتي اثرات او رنګونه ښکاري ـ د هغهٔ زیاتره نظمونه د رومانیت نه ډک دي لکه د مثال په توګه "کوهِ مري ـ بانوګۍ ـ زرینه ـ شاعرۍ ته ـ د ازادۍ ښاپیرۍ ته ـ د خوب دیوتا او سپوږمۍ ته" نظمونه ئې د رومانیت اعلیٰ نمونې دي ـ

په دې ساوڼ کښې ټوکېدلي رنګارنګ ګلونه

لکه د چېتر ښاپېرۍ چې وي راغلې په غلا
داسې ځواني د ونو بوټو لا زواله دلې
لکه ټوټه چې دې اِرم وي راوتلې په غلا
لرې جونګړه د غریب د غرۀ د غېږې کونډه
له ابادۍ نه مروره ده پخلا به نۀ شي
که ارمانونه مې د زړۀ ورته جولۍ اچوي
په منتونو د مال روړ سیمې ته رابه نۀ شي [44]

دا مطالعه نوره هم اوږدېدے شي ، خو زمونږ اصل موضوع بله څۀ بل رنګ ده ، دغه باب کښې مونږ تش د پښتو د کلاسیکي دور نه رانیولے تر نوي دورې پورې د رومانویت موجودګۍ ته اشاره کول مقصد وۀ او د لوستونکیو په وړاندې هغه اشارې کښېښودل وو ـ

## حوالې


[۱] محب وزیر، د مجذوب د شاعرۍ تنقیدي مطالعه، پېښور، باچا خان ریسرچ سنټر، مخ: ۱۵

[۲] هم دغه کتاب، مخ: ۱۶

[۳] حفیظ صدیقي، ابوالاعجاز، کشاف تنقیدی اصطلاحات، اسلام اباد، مقتدره قومی زبان، ۱۹۸۵، ص:۹۱

[٤] انور جمال، پروفیسر، ادبي اصطلاحات، اسلام اباد، نیشنل بک فاونڈیشن، اشاعت دوم فروري ۲۰۱۵، ص: ۱۱۲:

[٥] مجذوب، عبدالرحیم، د روماني تحریک پس منظر، خصوصیات او پښتو ته راتګ، مشموله: جرس (نظم نمبر)، کراچی، شمارې (۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۰)، کال ۲۰۰۲، مخ: ۱۶۹

[٦] رښتین، صدیق الله، د پښتو ادبي مکتبونه،پېښو،یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۸۸م، مخ: ۳

[۷] رومانویت او عبدالحمید، (کتاب طرف ته اشاره ده)

[۸] کشاف تنقیدی اصطلاحات ص:۹۲

[۹] پښتو نثر، درسي کتاب دیارلسم صنف،مخونه: ۱۸۹ـ ۱۸۸

[۱۰] رومانیت او پښتو نظم، جرس (نظم نمبر)، مخ: ۱۷۹

[١١] د روماني تحريک پس منظر، خصوصيات او پښتو ته راتګ، جرس (نظم نمبر)، مخ: ۱۶۸

[١٢] رومانويت او عبدالحميد،مخ: ۷۷

[١٣] هم دغه کتاب: ۶۴

[١٤] رومانيت او پښتو نظم) جرس (نظم نمبر)، مخ: ۱۷۹

[١٥] د روماني تحريک پس منظر، خصوصيات او پښتو ته راتګ) جرس (نظم نمبر)، مخ: ۱۶۸

[١٦] پروېز مهجور، ډاکټر، په روښاني شاعرئ کښې د رومانيت توکې، مشموله: پښتو(جلد نمبر ۳۸، نمبر ۶۳۶)، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور، اپرېل، جون ۲۰۰۸ء، مخ: ۲۹

[١٧] هم دغه، مخ: ،۲۱

[١٨] ارزاني خويشکي، د ارزاني خوېشکي کليات، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ،کال جون ۲۰۰۵ء، مخ: ۳۰۹

[١٩] هم دغه کتاب، مخ: ۳۰۴

[٢٠] انصاري، مېرزاخان، د ميرزا خان انصاري ديوان، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، کال نومبر ۲۰۰۴ء، مخ: ۲۰۰

[٢١] کامل، دوست محمدخان، خوشحال خان خټک کليات، پشاور شهر، اداره اشاعت سرحد، (دوېم ځل)کال ۱۹۶۰ء، مخ: ۲۵

[٢٢] هم دغه کتاب، مخ: ۳۳

[٢٣] هم دغه کتاب، مخ۲۹:

[٢٤] هم دغه کتاب، مخ: ۲۷۰

[٢٥] ديوان عبدالرحمان بابا، پېښور، يونيورسټي بک اېجنسي، کال جنوري ۱۹۹۸ء مخ: ۲۳

[٢٦] هم دغه کتاب، مخ: ۲۲

[٢٧] هم دغه کتاب، مخ: ۳۴

[٢٨] هم دغه کتاب، مخ: ۶۳

[۲۹] عبدالحمید بابا دیوان، دُر او مرجان، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، س ن، مخ: ۳۶،

[۳۰] هم دغه کتاب، مخ:۳۸

[۳۱] هم دغه کتاب، مخ: ۴۹

[۳۲] هم دغه کتاب، مخ: ۶۵

[۳۳] رومانیت او عبدلحمید، مخ: ۱۴۱

[۳٤] هم دغه کتاب، مخ:۱۴۱

[۳٥] رومانیت او عبدلحمید، مخ: ۱۴۴

[۳٦] هم دغه کتاب، مخ:۱۴۴

[۳۷] هم دغه کتاب، مخ: ۱۴۴

[۳۸] حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، پروفېسر، علي خان فن او فکر، چارسده، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون، د چاپ کال مئ ۲۰۱۵ء، مخ: ۴۰۲

[۳۹] هم دغه کتاب، مخ:۴۱۱

[٤۰] هم دغه کتاب، مخ:۴۱۴

[٤۱] رسا، سید رسول، د بېدیا ګلونه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، س ن، مخ: ۶۷

[٤۲] غني خان، لټون، ترتیب او تدوین ډاکټر محمد زبېر حسرت، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي، څلورم چاپ جنوري ۲۰۱۲ء، مخونه: ۲۶۶، ۲۶۷، ۲۶۸، ،

[٤۳] همېش خلیل، پښتانهٔ لیکوال، (اول ټوک) جولائي، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي ۲۰۱۰ء، مخونه: ۳۷۳، ۳۷۵

[٤٤] مجذوب، د مجذوب کلیات (اوله برخه)، بنو، پرمختګ بنو، اول چاپ جنوري ۲۰۱۳ء، مخ: ۳۴